# هېڅ داسې ورځې نشته چې نېک عمل پکې الله جل جلاله ته لدې ورځو څخه زيات محبوب وي، يعنې (د ذی الحجې) لس ورځې

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «هېڅ داسې ورځې نشته چې نېک عمل پکې الله جل جلاله ته لدې ورځو څخه زيات محبوب وي، يعنې (د ذی الحجې) لس ورځې،، هغوی وويل: اې د الله جل جلاله رسوله! او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه؟ هغه وفرمايل: او د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم نه، مګر هغه سړی چې له خپل ځان او مال سره وتلی وي او له هغې څخه هېڅ شی بېرته رانه وړي».

[صحيح دی] [البخاري او أبو داود روايت کړی دی او الفاظ د هغه دي]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د ذوالحجې په لومړيو لسو ورځو کې نيک اعمال د کال له نورو ټولو ورځو څخه غوره دي. صحابه کرامو رضی الله عنهم له رسول الله صلی الله عليه وسلم لدې لسو ورځو پرته په نورو ورځو کې د جهاد په اړه پوښتنه وکړه، چې آيا جهاد غوره دی که نه؛ پدې لسو ورځو کې نور نېک عملونه غوره دي؟ ځکه هغوی باوري وو چې جهاد تر ټولو غوره عمل دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: پدې ورځو کې نېک عمل په نورو وختونو کې له جهاد څخه غوره دی، پرته له هغه مجاهد څخه چې ځان او مال د الله جل جلاله په لاره کې په خطر کې واچوي ، نو مال له لاسه ورکړي او ساه يې هم د الله جل جلاله په لاره کې وخيږي. نو دا هغه څه دي چې پدې مبارکو ورځو کې له نېک عمل څخه غوره دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6255